رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# د زکات او روژې په اړه دوه لنډ پیغامونه

رسالتان موجزتان في الزكاة والصيام

بشتو

پښتو

لیکوال

عبد العزيز بن عبد الله بن باز

# رِسَالَتَانَ مُوْجَزَتَانِ فِي الزَّكَاةِ وَالصِّيَامِ

# د زکات او روژې په اړه دوه لنډ پيغامونه


ليکوال

عبد العزيز بن عبد الله بن باز

# لومړی پیغام
# د زکات په اړه مهمې څیړنې

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، وعلى آله وصحبه، أمابعد:

د دې وینا د لیکلو موخه خلکو ته د زکات د فرضیت په اړه نصیحت او یادونه ده، چې ډېرى مسلمانان یې په اړه بې پروایي کوي او په سمه توګه یې نه ادا کوي، سره له دې زکات لویه مرتبه لري او د اسلام له پنځو بناوو څخه یوه بناه ده چې لدې پرته اسلام نه بنا کیږي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «بُنِيَ الإسلامُ على خمسٍ شَهادةِ أن لا إلَهَ إلَّا اللهُ وأنَّ محمَّدًا رسولُ اللهِ وإقامِ الصَّلاةِ وإيتاءِ الزَّكاةِ وصَومِ رمضانَ وحجِّ البيتِ»، **ژباړه:** «اسلام پر پنځو شیانو بنا دی: د دې ګواهي ورکول چې له الله پرته د بندګۍ وړ هیڅوک نه شته او دا چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی، لمونځ قایمول، زکات ورکول، د رمضان روژه نیول او د بیت الله حج کول»[1]. د دې

(۱) بخاري په (۸) شمېره، او مسلم په (١٦) شمېره روایت کړی.

حدیث پر صحت اتفاق شوی دی.

پر مسلمانانو د زکات فرض کېدل د اسلام له ښکاره ښېګڼو څخه یوه ښېګڼه او پدې دلیل دی چې اسلام د خپلو پیروانو چارو ته پاملرنه لري، زکات زیاتې ګټې لري او ناچاره مسلمانان ورته ډېره اړتیا لري.

د زکات له ګټو څخه یوه د شتمنو او غریبانو ترمنځ د مینې اړیکې پیاوړې کول دي؛ ځکه چې نفسونه د هغو کسانو سره مینې کولو ته لیواله وي چې ښه ورسره کوي.

او بله ګټه یې: د نفسونو پاکوالی، تزکیه او د حرص او بخل له صفتونو څخه یې لرې ساتل دي، لکه څنګه چې قرآن کریم د الله تعالی په دې قول کې دا معنی په ګوته کړې ده: ﴿خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا ...﴾ [التوبة: ١٠٣]. **ژباړه:** «ای نبي! ته د دوی له مالونو نه صدقه واخله، چې ته دوی پاك كړې او په دې سره یې تزكیه وكړې». (التوبة سورت: ١٠٣ آیت).

او له دې څخه: د اړمنو خلکو په وړاندې مسلمان د سخاوت، مهربانۍ او شفقت له ځانګړتیاوو سره عادت کېدل دي.

او له دې څخه: د الله تعالی له لوري د برکتونو، زیاتوالي او بدلې تر لاسه کول دي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي: ﴿وَمَا أَنفَقۡتُم مِّن

﴿شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرزقين ۝٣٩﴾ [سبأ: ٣٩]. **ژباړه:** «او تاسو چې څه شی هم لګوئ، نو هغه د دغه (څیز) عوض درکوي او هغه تر ټولو غوره رزق ورکوونکی دی». (سبأ سورت: ٣٩ آیت)، او په صحیح حدیث کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا چې الله تعالی فرمايي: (يَا ابْنَ آدَمَ أَنْفِقْ نُنْفِقْ عَلَيْكَ...)، ژباړه: «اې د آدم زویه! (د الله جل جلاله) په لاره کې لګښت (انفاق) وکړه، چې زه پر تا انفاق وکړم، (یعنې پراخي دربانديې راولم)»[(١)]، او ډېرې نورې ګټې لري.

او د هغو کسانو په اړه سخت ګواښ شوی چې په (زکات) کې بخل کوي یا یې په ورکولو کې غفلت کوي. الله تعالی فرمايلي: ﴿وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ۝٣٤ يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ هَٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ۝٣٥﴾ [التوبة: ٣٤ - ٣٥]، **ژباړه:** «او هغه کسان چې سره زر او سپین زر خزانه کوي او هغه د الله په لاره کې نه لګوي، نو دوی ته د ډېر دردوونکي عذاب زېری ورکړه * په هغې ورځ چې د جهنم په اور کې به دغه

(١) بخاري په (٥٣٥٢) شمېره، او مسلم په (٩٩٣) شمېره روایت کړی.

(خزانې) بنې ګرمې کړی شي، بیا به په هغې سره د دوی تندي او د دوی اړخونه او د دوی شاګانې داغلی شي (او دوی ته به ویلی شي:) دا هغه څه دي چې تاسو د خپلو ځانونو لپاره خزانه کړي وو، نو تاسو وڅکئ هغه څه چې تاسو خزانه کول» (التوبة سورت: ٣٤ – ٣٥ آیتونه). نو ټول هغه څه چې زکات یې نه ورکول کیږي یوه ذخیره ده چې مالک ته به یې د قیامت په ورځ سزا ورکول کیږي، لکه څنګه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحیح حدیث کې ورته اشاره شوې ده، هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (مَا مِن صاحِبِ ذَهَبٍ ولا فِضَّةٍ لا يُؤَدِّي مِنْها حَقَّها، إلَّا إذا كانَ يَوْمُ القِيامَةِ صُفِّحَتْ له صَفائِحُ مِن نارٍ، فَأُحْمِيَ عليها في نارِ جَهَنَّمَ، فيُكْوَى بها جَنْبُهُ وجَبِينُهُ وظَهْرُهُ، كُلَّما بَرَدَتْ أُعِيدَتْ له، في يَومٍ كانَ مِقْدارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، حتَّى يُقْضَى بيْنَ العِبادِ، فَيَرَى سَبِيلَهُ؛ إمَّا إلى الجَنَّةِ، وإمَّا إلى النَّارِ). **ژباړه:** «د سرو او سپینو زرو هېڅ مالک نشته چې حق یې ترې نه ادا کوي مګر دا چې د قیامت په ورځ به ورته د اور تختې جوړې شي، او د جهنم په اور به سکروټې کړای شي او د دوی اړخونه، تندي او شاګانې به پرې په داسې ورځ کې داغل کیږي چې اوږدوالی یې د پنځوس زره کالو په اندازه دی، هر کله چې

دا (د اوسپنې تختې) سرې شي بیا به ورته ګرمې کړای شي، تر دې چې د بندګانو تر منځ پریکړه وشي، نو بیا به خپله لار یا جنت لوري ته ومومي او یا دوزخ لور ته»[1].

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د اوښانو، غواګانو او پسونو د مالک یادونه وکړه چې زکات یې نه ورکوي، او موږ ته یې خبر راکړ چې د قیامت په ورځ به یې له امله عذاب ورکړل شي.

او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په صحیح حدیث کې راغلي چې هغه فرمایلي: (مَن آتَاهُ اللهُ مَالًا، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ له مَالُهُ شُجَاعًا أَقْرَعَ له زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يومَ القِيَامَةِ، ثُمَّ يَأْخُذُ بلِهْزِمَتَيْهِ - يَعْنِي بشِدْقَيْهِ - ثُمَّ يقولُ أنَا مَالُكَ أنَا كَنْزُكَ، ثُمَّ تَلَا النبي صلى الله عليه وسلم قوله تعالى: ﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ۖ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ ...﴾ [آل عمران: ۱۸۰]. **ژباړه:** «چاته چې الله تعالی مال ورکړی وي او هغه یې زکات نه ادا کوي نو (له مال څخه به یې) په سر ګنجی مار جوړ شي چې په وښکېو کې به یې سپین زګ وي او یا دا چې د سترګو د پاسه به

---

(۱) مسلم په (۹۸۷) شمېره روایت کړی.

یې دوه تور ټکي وي، دا مار به په غاړه کې ورواچول شي، له دواړو وښکیو څخه به یې ونیسي او وبه وایي: زه ستا مال یم، زه ستا خزانه یم» بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت ولوست: ﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ۖ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ ...﴾ [آل عمران: ۱۸۰]. **ژباړه:** «او هغه کسان، چې په هغه څه سره شومتیا (بخل) کوي چې الله دوی ته له خپله فضله ورکړی دی (دوی دې) له سره دا گومان ونه کړي چې دا (شومتیا کول) د دوی لپاره ډېر ښه دي، بلکې دا د دوی لپاره ډېر بد دي، ژر ده چې د قیامت په ورځ به دوی ته هغه شی امېل کړی شي، چې په هغه سره دوی شومتیا کوله». (آل عمران سورت: ۱۸۰ آیت)(۱).

زکات په څلور ډوله مالونو کې ورکول کیږي: هغه غلې او دانې چې له ځمکې راوځي، او هغه څاروي چې په خپل سر راټوکېدلې گیاوې خوري، سره او سپین زر او سوداگریز توکي.

دا څلور واړه ډولونه هر یو ځانته بېله بېله ټاکلې اندازه (نصاب) لري، چې له هغې څخه په کمې اندازه کې زکات واجب نه دی، د دانو او میوو لپاره لږ تر لږه اندازه پنځه وسقه چې یو وسق: د رسول الله صلی الله

(۱) حدیث بخاري په (۱۴۰۳) شمېره روایت کړی.

علیه وسلم په پېمانه شپیته پېمانې کیږي؛ د خرما، ممیزو، غنمو، وریجو، وربشو او داسې نورو څخه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صاع مطابق درې سوه صاعه، چې یو صاع د متوسط سړي په لاسونو څلور ډکې لپې کیږي.

که چیرته د خرما ونې او فصلونه له زیار پرته اوبه کیږي لکه په باران، سیندونو، روانو چینو او داسې نورو نو لسمه برخه زکات پکې واجبیږي.

خو که چېرته په زیار او لګښت سره اوبه کېدل لکه: د اوبو څرخونه چې د څاریو په مرسته ترې اوبه راویستل کیږي، د اوبو پورته کولو ماشینونه او داسې نور، نو بیا پکې د لسمې برخه نیمه اندازه زکات واجبیږي، لکه څنګه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیث کې ثابت دي.

او په اوښانو، غواګانو او پسونو کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه بشپړ تفصیل راغلی چې که څوک لیوالتیا لري، کولی شي د ځان پوهونې لپاره یې په اړه له علماوو څخه پوښتنه وکړي، که دلته مو د وینا لنډول موخه نه وه نو مخامخا به مو د بشپړې فایدې لپاره یادونه کړې وه.

او د سپینو زرو نصاب یو سل او څلوېښت مثقاله دی، او د سعودي

عربستان په درهمونو یې اندازه شپږ پنځوس ریال ده.

او د سرو زرو نصاب شل مثقاله دی، چې د سعودي عربستان په جنیهاتو یوولس جنیه او د یوې جنیه درې اوومه برخه (یو ضرب درې پر اووه) او په گرامونو دوه نوي گرامه کیږي چې د زکات واجبه اندازه پکې د لسمې برخې څلورمه ده، د هغه چا لپاره چې په دواړه (سرو او سپینو زرو کې د نصاب خاوند وي) یا یوازې د یو نصاب ولري او کال پرې تېر شوی وي.

او گټه د اصل پورې اړه لري او نوي کال ته اړتیا نلري، لکه څنگه چې د څارویو حاصل د اصل پورې اړه لري، نو نوي کال ته اړتیا نه لري، کله چې اصل نصاب وي.

همدا خبره د سرو زرو، سپینو زرو او کاغذي پېسو په اړه هم ده چې خلک یې نن ورځ معامله کوي؛ برابره خبره ده که هغه درهم، دینار، ډالر، یا کوم بل نوم ولري، که چېرې یې ارزښت د سپینو زرو یا سرو زرو نصاب ته ورسیږي او کال پرې تېر شي، نو زکات پکې واجبیږي.

د ښځو د سرو زرو یا سپینو زرو زیورات هم د پېسو په کټگورۍ کې شامل دي، کله چې نصاب ته ورسیږي او کال پرې تېر شي، نو د علماوو له دوو نظریاتو څخه د راجح نظر له مخې پکې زکات واجب دی، که

څه هم د کارولو یا خلکو ته د امانت ورکولو (اعارې) لپاره وي، دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمومي وینا ده چې فرمایلي یې دي: (ما مِن صاحِبِ ذَهَبٍ ولا فِضَّةٍ لا يُؤَدِّي مِنْها حَقَّها، إلَّا إذا كانَ يَوْمُ القِيامَةِ صُفِّحَتْ له صَفائِحُ مِن نارٍ). **ژباړه:** «د سرو زرو او سپینو زرو هیڅ مالک نشته چې زکات یې نه ورکوي مګر دا چې د قیامت په ورځ به د هغه لپاره د اور تختې وګرځول شي»[1]. د حدیث تر پایه چې وړاندې تېر شو.

او هغه حدیث چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دی چې هغه د یوې ښځې په لاس کې دوه بنګړي ولیدل نو ویې ویل: (أتُعطينَ زكاةَ هذا؟ قالَت: لا. قال: أيَسُرُّكِ أن يُسَوِّرَكِ اللهُ بهما يومَ القيامةِ سِوارَيْنِ مِن نارٍ؟ فألقتهما فألقَتْهُما وقالَت: هما للهِ ولرسولِهِ). **ژباړه:** «آیا د دې زکات ورکوې» هغې وویل: نه. هغه وفرمایل: «آیا دا دې خوشحالوي چې د قیامت په ورځ یې پر ځای الله تعالی د اور بنګړي در په لاس کړي!» نو هغې ګذار کړل، او ویې ویل: «دواړه دې د الله او

---

(۱) تقدیم وتأخیر في متن الحدیث، الصحیح «ما من صاحب ذهب ولا فضة لا یؤدي حقها إلا إذا کان یوم القیامة صفحت له صفائح من نار». مسلم په (۹۸۷) شمېره روایت کړی.

د هغه د رسول لپاره وي»[١]، أبو داود او نسائي په حسن سند سره روايت کړی.

او له أم سلمة رضي الله عنها څخه روايت دی چې هغې د سرو زرو کړی اغوستې وې، نو ويې ويل: «ای د الله رسوله، آيا دا خزانه ګڼل کېږي؟ (يعني هغه څه دي چې د ذخيره کولو له امله يې بنده ته عذاب ورکول کيږي)؟ هغه وفرمايل: (مَا بَلَغَ أن يزكَّى فزكِّي فَلَيْسَ بِكَنْزٍ).

**ژباړه:** «هغه څه چې د زکات اندازې ته رسيدلي وي، زکات يې ورکړه، بيا نو خزانه نه ده»[٢]. د نورو حديثونو سره چې پدې معنا راغلي دي.

او هغه توکي چې د خرڅلاو لپاره چمتو شوي وي، نو د کال په پای کې يې نرخونه ټاکل کيږي او له قيمت څخه يې د لسمې برخې څلورمه زکات وېستل کيږي، برابره خبره ده که قيمت يې د بيعې په اندازه و، يا ترې ډير او يا لږ و؛ دليل يې د سمرة حديث دی وايي: (كانَ رسولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يأمُرُنا أنْ نُخرِجَ الصَّدقةَ مِنَ الَّذي نُعِدُّهُ للبَيعِ).

**ژباړه:** «رسول الله صلی الله عليه وسلم به موږ ته د هغو توکو د زکات

(١) ابو داود په (١٥٦٣) شمېره، او نسائي په (٢٤٧٩) شمېره روايت کړی.

(٢) ابو داود په (١٥٦٤) شمېره، او طبراني په (٦١٣) شمېره، او الحاکم په (١٤٣٨) شمېره روايت کړی.

ورکولو امر کاوه چې موږ به د خرڅلاو لپاره چمتو کول»[1]. ابو داود روایت کړی.

پدې کې هغه ځمکې، ودانۍ، موټرونه، اوبه راښکونکې ماشینونه او داسې نور توکي هم راځي چې د خرڅلاو لپاره چمتو شوي وي.

او هغه بلډنګونه چې د کرایې لپاره چمتو شوي وي نو د هغې زکات د اجارې یا کرایې په پیسو کې دی چې کال پرې واوړي، او په خپله بلډنګ کې زکات نشته؛ ځکه چې د خرڅلاو لپاره چمتو شوی نه دی، همدا رنګه شخصي موټرونه او ټکسیانې هم دي چې زکات پکې نشته پدې شرط چې د خرڅلاو لپاره چمتو شوي نه وي، بلکې خاوند یې یوازې د کاروني لپاره اخیستي وي.

او که چیرته د ټکسي د مالک یا بل چا سره دومره پیسې غونډې شي چې نصاب ته ورسیږي، نو د کال په تېرېدو سره پرې زکات کیږي، برابره خبره ده که هغه یې د لګښت لپاره چمتو کړي وي، یا د واده لپاره، یا د ځمکې اخیستلو او یا پور ادا کولو او یا بل مقصد لپاره؛ د هغو عمومي دلایلو پر بنسټ چې پدا ډول مواردو کې د زکات د واجبیدو په اړه راغلي

(۱) ابو داود په (۱۵٦۲) شمېره او بیهقي په (٧٦٧٢) شمېره، او طبراني په (٧٠٢٩) شمېره روایت کړی.

دي.

د علماوو له اقوالو څخه صحيح يو دا دی چې قرض د زکات ورکولو مانع نه ګرځي، لکه وړاندې چې تېر شو.

همدا رنګه د يتيمانو او ليونيانو مالونه هم دي چې د جمهورو علماوو په اند پکې زکات واجب دی چې نصاب ته ورسيږي او کال پرې تېر شي، او د هغوی په سرپرستانو واجب دي چې د هغوی له خوا نيت وکړي او زکات يې ورکړي کله چې پرې کال تېر شي؛ دليل يې عمومي دلايل او د معاذ بن جبل رضي الله عنه حديث دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم کله يمن ته وليږه نو ورته يې وويل: (أَنَّ اللهَ افْتَرَضَ عليهم صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِن أَغْنِيَائِهِمْ وتُرَدُّ علَى فُقَرَائِهِمْ). **ژباړه:** «يقينا چې الله تعالی پرې د هغوی په مالونو کې زکات فرض کړی چې له بډايه خلکو يې اخيستل کيږي او ناچارو ته يې ورکول کيږي»[(١)].

او زکات د الله تعالی حق دی، روا نه ده د هغه چا سره پکې خواخوږي وشي چې مستحق يې نه وي او نه دا چې له امله يې څوک ګټه تر لاسه کول يا له ځان څخه تاوان چپول په نظر کې ونيسي، يا دا چې خپل مال پرې وساتي او يا پرې ځان له ملامتيې څخه خلاص کړي،

(١) بخاري په (١٣٩٥) شمېره روايت کړی.

بلکې پر خاوند یې واجب دي چې مستحقو خلکو ته یې ورکړي، څکه چې همغوی یې خاوندان دي، نه د بل غرض او موخې لپاره، بل دا چې له زړه نه به یې ورکوي، او په ورکولو سره به یې الله تعالی ته مخلص وي؛ تر څو یې غاړه خلاصه شي او د لوی اجر او ثواب مستحق وګرځي.

الله تعالی په خپل سپیڅلي کتاب کې د هغو کسانو ډلې تشریح کړې چې د زکات مستحق دي. الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٦٠﴾ [التوبة: ٦٠]، **ژباړه:** «دا صدقې خو په اصل کې د فقیرانو او مسکینانو له پاره دي او د هغو خلکو له پاره دي چې د صدقو د چارو مامورین وي، او د هغو لپاره چې د هغو زړونه په لاس راوړل مقصد وي. دغه راز دا د غاړو د ازادولو او د پوروړو د مرستې لپاره، او د الله په لار کې او په مسافر پالنه کې د استعمالولو لپاره دي د الله له لورې یوه فریضه ده او الله په هر څه پوهېدونکی او حکمت والا دی». (التوبة: سورت ٦٠ آیت).

او په دې دوه عزتمندو نومونو سره د دې مبارک آیت پای ته رسولو کې الله تعالی خپلو بندګانو ته خبرداری ورکوي چې هغه، قادر مطلق

او د خپلو بندګانو د حالاتو څخه خبر ذات دی چې: څوک له دوی څخه د زکات مستحق دي او څوک نه، او هغه په خپل شریعت او تقدیر کې حکمت والا ذات دی، نو هغه هر شی په خپل مناسب ځای کې کاروي، که څه هم له ځینو څخه یې راز او حکمت پټ وي؛ تر څو یې بندګان له شریعت څخه ډاډمن او واکمنۍ ته یې تسلیم شي.

له الله جل جلاله څخه سوال کوو چې مونږ او ټولو مسلمانانو ته په دین کې پوهه، په معاملاتو کې ریښتینولي او هغو کارونو ته یو له بل څخه د مخکې کېدلو توفیق راکړي چې هغه پرې راضي کیږي، او له هغو کارونو مو وساتي چې د هغه د غصې لامل ګرځي، یقینا چې هغه ذات اوریدونکی او نږدې دی!

وصلى الله وسلم على عبده ورسوله محمد وآله وصحبه.

د علمي څېړنو د ادارو عمومي رئیس

او د فتوا، دعوت او ارشاد

مهربان شیخ: عبد العزيز بن عبد الله بن باز.

# دويم پيغام

## په رمضان کې د روژې او لمونځ فضيلت او د ځينو مهمو احکامو تشريح چې کيدی شي ډير خلک پرې نه پوهيږي.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

د عبدالعزيز بن عبدالله بن باز له خوا هر هغه مسلمان ته چې دا (ليکنه) ويني، الله تعالی دې ما او هغوی ته د مؤمنانو لارې ته لارښوونه وکړي او موږ ته دې په سنت او قرآن د پوهې لارښوونه وکړي، آمين!

سَلامٌ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ

أما بعد: دا د روژې په مياشت کې د روژې نيولو او لمانځه د فضيلت او په نيکو کارونو کې د سيالۍ د فضيلت په اړه د اړينو احکامو د تشريح سره يو لنډ نصيحت دی چې کيدای شي ځينې خلک ترې ناخبره وي.

له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه ثابت دي چې هغه خپلو صحابه کرامو ته د روژې د مياشتې د راتګ زيری ورکاوه، او ورته به يې ويل چې دا هغه مياشت ده چې د رحمت او جنت دروازې پکې خلاصيږي، د دوزخ دروازې تړل کيږي او شيطانان په زنځيرونو تړل کيږي، او فرمايل به يې: (إذا كانَت أوَّلُ ليلةٍ من رمَضانَ فُتِّحَتْ أبوابُ

الجنَّة فلم يُغلَقْ منها بابٌ، صُفِّدَتِ الشَّياطينُ، ويُنادي منادٍ يا باغيَ الخيرِ أقبِلْ ويا باغيَ الشَّرِّ أقصِرْ وله عُتقاءُ من النَّارِ وَذَلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ).

**ژباړه:** «کله چې د رمضان لومړۍ شپه راشي، د جنت دروازې پرانیستل شي چې یوه یې هم تړلې نه پاتې کیږي او د دوزخ دروازې وتړل شي چې یوه یې هم خلاصه نه پاتې کیږي، شیطانان وتړل شي او یو آواز کوونکی اواز وکړي: ای د خیر غوښتونکیه مخ په وړاندې راشه، او ای د شر غوښتونکیه! له ګناهونو ودریږه، او (د رمضان د میاشتې) په هره شپه کې الله تعالی له اور څخه ازادوونکي لري»[1].

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (جَاءَكُمْ شَهْرُ رَمَضَانَ، شَهْرُ بركةٍ، يَغْشَاكُمُ اللهُ فيه، فَيُنزِلُ الرحمةَ، ويَحُطُّ الخطايا ويَستجيب الدُّعَاءَ، وينظر اللهُ تعالَى إلى تنافُسِكم فيه، فيُباهي بكم ملائكتَه، فأَرُوا اللهَ مِنْ أنفُسِكم خيرًا، فإنَّ الشَّقِيَّ من حُرِمَ فيه رحمةَ اللهِ). **ژباړه:** «د روژې میاشت درته راغلې ده، د برکت میاشت چې الله پاک پکې تاسو پوښي: نو رحمت نازلوي، ګناهونه لرې کوي او دعاګانې قبلوي، الله تعالی پکې ستاسو سیالۍ ته ګوري او د خپلو ملائکو پر وړاندې پر تاسو

(١) ترمذي په (٦٨٢) شمېره، او ابن ماجه په (١٦٤٢) شمېره روایت کړی.

وياړي؛ نو الله تعالى ته مو له ځان څخه خبر ونبيئ؛ بدبخته هغه څوک دى چې د الله له رحمت څخه پکې بې برخې پاتې شي»[١].

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (مَن صامَ رَمَضانَ إيمانًا واحْتِسابًا، غُفِرَ له ما تَقَدَّمَ مِن ذَنْبِهِ، وَمَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، ومَن قامَ لَيْلَةَ القَدْرِ إيمانًا واحْتِسابًا، غُفِرَ له ما تَقَدَّمَ مِن ذَنْبِهِ). **ژباړه:** «څوک چې د رمضان مياشت د ايمان او ثواب په نيت روژه ونيسي تېر ګناهونه به يې وبښل شي، او څوک چې د رمضان په مياشت کې د ايمان او ثواب په نيت لمونځونه وکړي نو تېر ګناهونه به يې وبښل شي او څوک چې د قدر شپه د ايمان او ثواب په نيت په عبادت تېره کړي، د هغه پخواني ګناهونه به وبښل شي»[٢].

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (كُلُّ عمَلِ ابنِ آدمَ لَهُ، الحسَنةُ بعَشرِ أمثالِها إلى سَبعِمائةِ ضِعفٍ إلَّا الصِّيامَ، فَإِنَّهُ لَيْ، وَأَنَا أَجْزِيْ بِهِ، تَرَكَ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ وَشَرَابَهُ مِنْ أَجْلِيْ، وللصَّائمِ فَرْحَتَانِ: فرحةٌ عِنْدَ فِطْرِهِ، وَفَرْحَةٌ عندَ لقاءِ ربِّهِ، ولَخلوفُ فمِ الصَّائمِ أطيبُ عندَ

---

(١) طبراني په مسند الشميين کې په (٢٢٣٨) شمېره روايت کړی.

(٢) بخاري په (٢٠١٤) شمېره، او مسلم په (٧٦٠) شمېره روايت کړی.

اللهِ من ريحِ المِسْكِ)، **ژباړه:** «الله پاک فرمايلي: د آدم د زوی هر نيک عمل به د هغه لپاره له لسو څخه تر اووه سوه چنده پورې بدله ولري پرته له روژې څخه چې زما لپاره ده او زه به يې بدله ورکوم، هغه زما لپاره خپل شهوت، خوراک او څښاک پريښي دي. د روژه دار لپاره دوه خوښۍ دي: يوه خوشحالي چې کله روژه ماتوي، او بله خوشحالي چې کله له خپل رب سره ملاقات کوي، د روژه دار د خولې بد بويي د الله په نزد د مشک له بوی څخه غوره ده»[(١)].

په رمضان کې د روژې نيولو او لمانځه د فضيلت او پخپله د روژې د فضيلت په اړه ډېر حديثونه راغلي دي.

نو مومن بايد له دې فرصت څخه ګټه پورته کړي، چې الله پاک پرې د رمضان د مياشتې د لاندې کولو لورينه کړې ده، نو د پيروۍ په کارونو کې بيړه کوي، له بدو کارونو څخه ډډه کوي او هڅه کوي هغه څه ترسره کړي چې الله تعالی پرې فرض کړي دي، په ځانګړې توګه پنځه وخته لمونځونه، چې د اسلام د ستنې حيثيت لري او د شهادتينو پسې ستره فريضه ده، نو په هر مسلمان نارينه او ښځينه واجب دي چې پابندي پرې وکړي او په ټاکل شوو وختونو کې يې په عاجزۍ او سکون سره ادا

(١) بخاري په (١٨٩٤) شمېره، او مسلم په (١١٥١) شمېره د الفاظو په لږ اختلاف سره روايت کړې.

کړي.

د سړيو په حق کې يې له مهمو دندو دا ده چې په جماعت سره په جوماتونو کې ادا شي، په هغو کورونو کې چې الله يې د اوچتولو او په هغو کې د هغه د نوم يادولو حکم کړی دی لکه چې فرمايي: ﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ۝٤٣﴾ [البقرة: ٤٣]. **ژباړه:** «او تاسو لمونځ قايموئ او زکاتورکوئ او له رکوع کوونکو سره رکوع کوئ» (البقرة سورت، ٤٣ آيت).

او الله تعالى فرمايي: ﴿حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ۝٢٣٨﴾ [البقرة: ٢٣٨]. **ژباړه:** «د لمونځونو ساتنه کوئ او (خصوصًا) د ښځې منځني لمونځ، او الله ته ودرېږئ اطاعت کوونکي»، (البقرة سورت: ٢٣٨ آيت)

او فرمايي: ﴿قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝١ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ۝٢﴾ [المؤمنون: ١-٢]. **ژباړه:** «يقينًا مومنان کامياب شول * هغه چې هغوی په خپلو لمونځونو کې خشوع کوونکي دي» (المؤمنون سورت: ١-٢ آيتونه).

تر دې چې ويې فرمايل: ﴿وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ۝٩

﴿أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْوَٰرِثُونَ ۝١٠ ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ۝١١﴾ [المؤمنون: ٩ – ١١]. **ژباړه:** «او هغه کسان چې دوی په خپلو لمونځونو همېشه والی (او پابندي) کوي * هم دغه خلق وارثان دي * هغه چې د فردوس وارثان کېږي به، دوی به په هغه کې همېشه وي» (المؤمنون سورت: ٩-١١ آیتونه).

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (العَهدُ الَّذي بيْنَنا وبيْنَهمُ الصَّلاةُ؛ فمَن ترَكَها فقدْ كَفَرَ). **ژباړه:** «زموږ او د دوی تر منځ تړون لمونځ دی، نو چا چې دا پرېښود، هغه کافر شو»[1].

له لمانځه وروسته تر ټولو مهمه فریضه زکات ورکول دي، لکه څنګه چې هغه فرمایلي دي: ﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعْبُدُواْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلْقَيِّمَةِ ۝٥﴾ [البينة: ٥]. **ژباړه:** «حال دا چې دوی ته حکم نه وورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دین (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي (او) حنیفان (له باطله حق ته راګرځېدونکي) وي، او (د دې چې) دوی دې لمونځ قایموي او زکات

(١) الحاکم په المستدرک کې په (١١) شمېره روایت کړی.

دې ورکوي او هم دغه ډېر محکم دین دی». (البینة سورت: ٥ آیت).

او الله تعالی فرمايلي: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَءاتُوا الزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ۝٥٦﴾ [النور: ٥٦]. **ژباړه:** «او تاسو لمونځ قايموئ او زکات ادا کوئ او د رسول اطاعت کوئ، د دې لپاره چې په تاسو رحم وکړی شي» (النور سورت: ٥٦ آیت).

د الله تعالی کتاب او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم سنت دا په گوته کوي چې څوک د خپل مال زکات نه ورکوي د قیامت په ورځ به پرې سزا ورکړل شي.

له لمانځه او زکات وروسته تر ټولو مهم کار د رمضان روژه ده، چې د اسلام له پنځو ارکانو څخه یو رکن دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم په وینا کې یې یادونه شوې ده: (بُنِيَ الإِسْلاَمُ علَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وأَنَّ مُحَمَّدًا رَسولُ اللهِ، وإقَامِ الصَّلاَةِ، وإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وصَوْمِ رَمَضَانَ، وَحَجِّ البَيْتِ). **ژباړه:** «اسلام پر پنځو شیانو ولاړ دی: د دې گواهي ورکول چې له الله پرته د بندگۍ وړ هیڅوک نشته او دا چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی، لمونځ قايمول، زکات

ورکول، د رمضان روژه نيول او د بيت الله حج کول»[1].

او پر مسلمان واجب دي چې خپله روژه او قيام له حرامو ويناوو او کړنو وساتي؛ ځکه چې له روژې څخه مقصد د الله تعالی اطاعت او د الله تعالی د مهانعتونو درناوی او د خپل نفس پر وړاندې مبارزه ده؛ له هغه څه نه ډډه کول چې نفس يې غواړي او کول يې د الله تعالی مخالفت وي او له هغه څه نه يې صبرول چې الله حرام کړی وي، يوازې موخه ترې د خوراک، څښاک او نورو روژه ماتوونکو پرېښودل نه دي؛ له دې امله له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه په صحيح روايت کې ثابت دي چې هغه فرمايلي: (الصِّيامُ جُنَّةٌ، فإذا كانَ يومُ صومِ أحدِكُم فلا يرفُثْ، ولا يصخَبْ، فإن سَابَّهُ أحدٌ أو قاتلَهُ، فليقل: إنِّي صائمٌ)، ژباړه: «روژه ډال ده، نو کله چې ستاسو څخه څوک روژه وي، بايد فحش خبرې ونه کړي او نه دې غږ پورته کوي. که څوک ورته بدې ردې ووايي او يا ورسره جګړه وکړي نو ودې وايي چې: زه روژه يم»[2].

او له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه ثابت دي چې هغه فرمايلي:

---

(۱) بخاري په (۸) شمېره روايت کړی.

(۲) بخاري په (۱۸۹۴) شمېره، او مسلم په (۱۱۵۱) شمېره روايت کړی.

«مَن لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ والعَمَلَ به والجَهْلَ، فليسَ لِلَّهِ حاجَةٌ فِيْ أنْ يَدَعَ طَعامَهُ وشَرابَهُ». **ژباړه:** «څوک چې درواغ ويل، عمل پرې کول او جهالت نه پرېږدي، نو الله تعالى يې خوراک او څښاک پرېښودلو ته اړتيا نه لري»[١].

نو له دې او نورو نصوصو څخه معلومه شوه چې روژه نيونکی بايد له هر هغه څه څخه ځان وساتي چې الله تعالى پرې حرام کړي دي او په هر هغه عمل پابند پاتې شي چې الله تعالى پرې واجب کړي دي، نو په دې توګه هيله ده چې وبښل شي، له اور څخه آزاد شي او روژه او قيام يې قبول شي.

او ځينې شيان شته چې ډېر خلکو ته معلوم نه دي:

له دې څخه يو دا چې پر مسلمان واجب دي د ايمان او ثواب په نيت روژه ونيسي، نه د ځان ښودلو، شهرت، د خلکو تقليد، يا د خپلې کورنۍ يا د خپل هېواد د خلکو د پيروۍ لپاره، بلکې پرې واجب دي چې د روژې نيولو لامل يې په الله تعالى ايمان وي چې هغه پرې فرض کړې ده، او له همغه څخه يې اجر وغواړي، همدا رنګه په رمضان کې قيام (لمونځونه کول)، پر مسلمان واجب دي چې د ايمان او ثواب په نيت يې

(١) بخاري په (٦٠٥٧) شمېره روايت کړی.

وکړي نه د بل سبب په خاطر؛ له دې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

(مَن صامَ رَمَضانَ إيمانًا واحْتِسابًا، غُفِرَ له ما تَقَدَّمَ مِن ذَنْبِهِ، وَمَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، ومَن قامَ لَيْلَةَ القَدْرِ إيمانًا واحْتِسابًا، غُفِرَ له ما تَقَدَّمَ مِن ذَنْبِهِ). **ژباړه:** «خوک چې د رمضان میاشت د ایمان او ثواب په نیت روژه ونیسي تېر گناهونه به یې وبښل شي، او خوک چې د رمضان په میاشت کې د ایمان او ثواب په نیت لمونځونه وکړي نو تېر گناهونه به یې وبښل شي او خوک چې د قدر شپه د ایمان او ثواب په نیت په عبادت تېره کړي، د هغه پخواني گناهونه به وبښل شي»[١].

او له هغو چارو چې ځینې خلک ترې ناخبره پاتې دي هغه دي چې کله ناکله ورسره روژه دار مخ کیږي لکه: زخمي کېدل، له زخم څخه وینې او زوې تلل، قی کول، یا ستوني ته ناقصده د اوبو او یا تېلو تېریدل، نو دا ټول څیزونه روژه نه ماتوي، خو که چا په قصدي توگه قی وکړ روژه یې فاسده شوه؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: (مَن ذَرَعه

(١) تخریج یې مخکې تیر شوی.

القَيءُ فلا قضاءَ عليه، ومَن استقاءَ عَمدًا فلْيَقضِ). **ژباړه:** «څوک چې په غير ارادي ډول قی وکړي، پر هغه د روژې قضا نشته، خو څوک چې په قصدي توګه قی وکړي، بايد د روژې قضايي راوړي»[1].

د دې مسئلو له جملې څخه دا هم ده چې روژه دار ورسره مخ کيږي چې د جنابت غسل د سهار تر راختلو پورې وځنډوي، او يا ځينې مېرمنې چې له حيض او يا نفاس څخه وروسته غسل د سهار تر راختلو پورې ځنډوي حال دا چې پاکوالی يې د سهار له راختلو مخکې ليدلی وي، نو پر هغې روژه نيول لازم دي، او پروا نه کوي چې غسل د سهار له راختلو وروسته وخت ته وځنډوي، خو ورته روا نه دي چې د لمر تر راختلو پورې يې وځنډوي، بلکې پرې واجب دي چې غسل وکړي او د لمر له راختلو مخکې د سهار لمونځ ادا کړي،

همدارنګه جنب انسان ته هم روا نه دي چې له جنابت څخه غسل د لمر له راختلو وروسته وخت ته وځنډوي، بلکې پرې واجب دي چې غسل وکړي او د لمر له راختلو مخکې لمونځ ادا کړي، او پر سرې دا واجب دي چې په غسل کولو کې بيړه وکړي تر څو د سهار لمونځ له

(۱) ابو داود په (۲۳۸۰) شمېره، او ترمذي په (۷۲۰) شمېره، او ابن ماجه په (۱٦۷٦) شمېره روايت کړی.

جماعت سره ادا کړي.

له هغو ځيزونو نه چې روژه نه فاسدوي: وينه معاينه کول او هغه پيچکارۍ کول چې موخه يې د بدن تغذيه کول نه وي، خو که شونې وه د شپې مهال ته د دواړو وروسته کول غوره دي؛ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې وينا له امله: (دَعْ ما يَرِيبُكَ إلى ما لا يَرِيبُكَ). **ژباړه:** «هغه څه پرېږده چې تا شکمنوي، او هغه وکړه چې تا نه شکمنوي»[1].

او د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول: (مَن اتقى الشبهاتِ فقد استَبْرَأَ لدينِه وعِرْضِهِ). **ژباړه:** «چا چې له شبهو څخه ځان وساته، نو خپل دين او ابرو يې خوندي وساتله»[2].

او له هغو چارو چې ځينې خلک ترې ناخبره دي: په لمانځه کې د سکون حالت نه مراعتول دي، برابره خبره ده که فرض لمونځ وي او يا نفل، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم ډيرى حديثونه پدې دلالت کوي چې په لمانځه کې د اطمينان حالت مراعتول د لمانځه له ارکانو څخه يو رکن دى او پرته له دې لمونځ نه صحيح کيږي، دا په لمانځه کې سکون

(۱) امام احمد په (۱۲۱۲۰) شمېره روايت کړى.

(۲) بخاري په (۵۲) شمېره، او مسلم په (۱۵۹۹) شمېره روايت کړى.

ډاډ او خشوع کول او له بیړې کولو ځان ساتل دي، داسې چې هره پښتۍ او هډوکی خپل ځای ته ورسیږي. (دا په داسې حال کې چې) ډیری خلک په رمضان کې تراویح لمونځ پداسې بڼه کوي چې عقل یې نه مني؛ ډاډ او سکون پکې نه حاصلیږي، بلکې ټونګې وهي، چې پدې بڼه لمونځ کول باطل دي، خاوند یې ګناهکار دی او هیڅ اجر ورته نشته.

او له هغو چارو چې ډیری خلک پرې نه پوهیږي دا ګومان دی چې له شل رکعتونو څخه د تراویحو کمول روا نه دي، او د ځینو دا ګومان چې له یوولسو رکعتونو او یا له دیارلسو رکعتونو زیات لمونځ روا نه دی، چې دا ټول ګومانونه بې ځایه دي، بلکې غلط او د دلایلو خلاف دي.

حال دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحیح احادیث ښیي چې د شپې لمانځه کې پراخي ده، او د هغې لپاره هیڅ ځانګړی حد نشته چې سرغړونه ترې ونشي، بلکې دا ثابته ده چې هغه صلی الله علیه وسلم د شپې یوولس رکعته لمونځ کړی او ځینې وختونه یې دیارلس رکعته کړي، ځینې وختونه یې په رمضان او نورو میاشتو کې له دې څخه کم لمونځ کړی او کله چې ترې د شپې د لمانځه په اړه پوښتنه وشوه نو ویې ویل: (مَثْنَى مَثْنَى، فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ صَلَّى رَكْعَةً واحِدَةً تُوتِرُ له ما قدْ صَلَّى). **ژباړه:** «دوه دوه، او کله چې یو له تاسو څخه د سهار

راختلو ویره درلوده نو یو رکعت دې وکړي، چې مخکني رکعتونه یې تاق (وتر) شي»[1].

د دې حدیث پر صحت اتفاق شوی دی.

او رکعتونه یې مشخص کړي نه دي، نه په رمضان کې او نه بل وخت کې، لدې امله صحابه کرامو د عمر رضي الله عنه په وخت کې ځینې وختونه درویشت رکعته لمونځ کړی او ځینې نور وختونه یې یوولس رکعته کړي، دا ټول له عمر رضي الله عنه او صحابه کرامو څخه د هغه په وخت کې ثابت دي.

او ځینو سلفو به په رمضان کې شپږدیرش رکعته لمونځ کاوه او وروسته به یې درې رکعته وتر کول، او ځینو نورو به یو څلوېښت کول، د دې یادونه شیخ الاسلام ابن تیمیه او نورو علماوو رحمهم الله کړې ده، هغه رحمة الله علیه ویلي دي: چې پدې موضوع کې (دایره) پراخه ده، او یادونه یې کړې ده چې د هغه چا لپاره چې اوږد قراءت، رکوع او سجدې کوي غوره ده چې لږ رکعتونه وکړي، او څوک چې لنډ قراءت، رکوع او سجده کوي غوره ده چې رکعتونه زیات کړي، دا یې د خبرو معنا ده، الله دې پرې ورحمیږي.

---

(۱) بخاري په (۹۹۰) شمېره، او مسلم په (۷۴۹) شمېره روایت کړی.

او که څوک د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت کې غور وکړي، پوه به شي چې په دې ټولو کې غوره شی په رمضان او نورو وختونو کې یوولس یا دیارلس رکعته لمونځ کول دي، ځکه چې دا د هغه صلی الله علیه وسلم د عمل سره په ډیری حالاتو کې اړخ لګوي، او ځکه چې دا د لمونځ کوونکو لپاره اسانه او عاجزۍ او سکون ته نږدې حالت دی، او که چا زیات وکړل هیڅ ملامتی پرې نه شته او نه یې عمل مکروه دی لکه وړاندې چې وویل شو.

او څوک چې د رمضان په قیام اللیل کې له امام سره لمونځ کوي، نو د هغه لپاره غوره دا ده چې د امام سره یې یو ځای پای ته ورسوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا قَامَ مَعَ الإمامِ حتى ينصرفَ كُتِب له قيامُ ليلةٍ). **ژباړه:** «یو سړی چې کله له امام سره تر پای پورې ودریږي، الله تعالی به ورته د ټولې شپې قیام ولیکي»[1].

په دې مبارکه میاشت کې ټولو مسلمانانو ته په کار دي چې د ډول ډول عبادتونو په کولو کې زیار وباسي لکه: نفلي لمونځونه، په غور او فکر سره د قرآن کریم تلاوت، تسبیحات، لا اله الا الله، الحمد لله، الله أکبر، أستغفر الله او نور شرعي اذکار (ویل)، په نیکۍ امر کول او له بدۍ څخه منع کول، د الله تعالی لور ته بلنه ورکول، د غریبانو او مسکینانو سره مرسته کول، د مور او پلار سره په نیکۍ کولو کې زیار

(۱) نسائي په (۱٦۰٥) شمېره، او ابن ماجه په (۱۳۲۷) شمېره روایت کړی.

ويستل، خپلوي پالل، د ګاونډي درناوی کول، د ناروغانو پوښتنه کول او داسې نور د خېر کارونه، لکه رسول الله صلى الله عليه وسلم چې په تېر حديث کې فرمايلي:

(ينظر اللهُ تعالَى إلى تنافُسِكم فيه، فيُباهي بكم ملائكتَه، فأَرُوا اللهَ مِنْ أنفُسِكم خيرًا، فإنَّ الشَّقِيَّ من حُرِمَ فيه رحمةَ اللهِ). **ژباړه:** «الله تعالى ستاسو سيالي ګوري، او هغه د خپلو ملايکو پر وړاندې پر تاسو فخر کوي، نو الله تعالى ته مو له ځان څخه خېر وښاياست، ځکه بدبخت هغه څوک دی چې پدې (مياشت) کې د الله تعالى له رحمت څخه محروم شي»[1].

او هغه حديث چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت دی چې هغه فرمايلي: (من تقرَّب فيه بخَصلةٍ من خِصالِ الخيرِ، كان كمن أدَّى فريضةً فيما سواه، ومن أدَّى فريضةً فيه، كان كمن أدَّى سَبْعِيْنَ فَرِيْضَةً فِيْمَا سِوَاهُ). **ژباړه:** «څوک چې (پدې مياشت کې) د يوې ښېګڼې په واسطه الله ته نږدې شي، داسې ده لکه په نورو وختونو کې يې چې فرض عمل ادا کړی وي، او څوک چې پکې فرض ادا کړي، نو داسې ده لکه په نورو وختونو کې يې چې اويا فرض ادا کړي وي»[2].

---

(١) تخريج يې مخکې تير شوی.

(٢) ابن خزيمة په (١٨٨٧) شمېره، او البيهقي په الشعب کې په (٣٣٣٦) شمېره روايت کړی.

او په صحیح حدیث کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا: (عُمرةً في رمضانَ تَعْدِلُ حَجَّةً. أو قَالَ: حَجَّةً مَعِيْ). **ژباړه:** «په رمضان کې عمره د حج سره (په ثواب کې) برابره ده. او یا یې داسې ویلي: لکه زما سره حج»[1].

ډېر حدیثونه او روایات شته چې په دې مبارکه میاشت کې په بېلابېل ډول نیکیو کې د سیالۍ او رقابت مشروعیت په ګوته کوي.

او له الله تعالی څخه سوال کوو چې موږ او ټولو مسلمانانو ته د هغه څه توفیق راکړي چې هغه پرې خوشحالیږي او زموږ څخه زموږ روژه او قیام قبول کړي، زموږ پر حال رحم وکړي، او موږ ټول له ګمراه کوونکو فتنو څخه وساتي، لکه څرنګه چې ترې سوال کوو چې د مسلمانانو واکمنان اصلاح کړي او په حق یې سره راټول کړي، بېشکه چې هغه ذات د دې کارونو واکمن او پرې توانمند دی.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

---

(۱) السیوطي په الجامع الصغیر کې په (۵۵۹۵) شمېره روایت کړی.

# فهرست

لومړی پیغام: د زکات په اړه مهمې څېړنې ..........................................۱
دويم پيغام: په رمضان کې د روژې او لمونځ فضيلت او د ځينو مهمو احکامو تشريح چې کېدی شي ډېر خلک پرې نه پوهيږي..........................................۱۵

حرمين

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# رسالة الحرمين

## د حرمين پيغام

د مسجد الحرام او مسجد نبوي زيارت كونكو لپاره لاربنود
مواد په ژبو كي